## د قربانیانو حقونه

په اوریګون کې د پیښیدونکي جرم د قرباني په حیث، تاسې ځینې حقونه لرئ چې ستاسې خوندیتوب کې مرسته کوي او ډاډ ورکوي چې تاسې سره عادلانه چلند وشي. دا حقونه په هغه صورت کې هم تاسې پورې تړاو لري که چیرې ستاسې ماشوم د جرم قرباني وي.

اکثر تاسې باید د حقونو غوښتنه وکړئ. د دې کار کولو لپاره یوه لاره دا ده چې تاسې د خپلې ولسوالۍ د څارنوال دفتر سره اړیکه ونیسئ.

### د جرم د قرباني په حیث زه کوم حقونه لرم؟

په کومه قضیه کې چې تاسې قرباني اوسئ یا د قرباني قانوني سرپرست، تاسې د لاندې شیانو د کولو حقونه لرئ:

- په پرانیستې محکمې ناستو کې ګډون وکړئ.
- د ځان سره ملاتړی فرد ولرئ.
- د جرم اړوند په شرایطو برابر لګښتونو لپاره **تاوان** (د جرم له امله پیښ شوي زیانونو لپاره د مدعي علیه څخه تادیه) ترلاسه کړئ.
- د پرانیستې یا ښکاره محکمې د پروسې ټرانسکریپټ یا ثبت غوښتنه وکړئ. (تاسې ممکن اړ اوسئ فیس تادیه کړئ.)
- هغه معلومات محافظت کړئ چې متخلف سره ستاسې یا ستاسې د کور پیژندلو کې مرسته کولی شي، لکه ستاسې پته، د تلیفون شمیره، او د ټولنیز مصؤنیت شمیره.

ستاسې څارنوال هم کولی شي دا حقونه ستاسې لپاره عملي کړي. که تاسې نه غواړئ د محکمې پروسه کې وغږیږئ (کله چې دا حق موجود وي)، تاسې کولی شئ کوم بل څوک ولرئ چې ستاسې په ځای وغږیږي.

### د نیول کیدو نه وروسته ستاسې حقونه

که چیرې کوم څوک د جرم لپاره نیول شوی وي، تاسې حق لرئ دا لاندې موارد وکړئ:

- په اوریدا کې د مدعي علیه د آزادولو په اړه ستاسې خوندیتوب قاضي په پام کې ونیسي.
- څارنوال د مدعي علیه لپاره د احتمالي انحرافي پروګرامونو (هغه پروګرامونه چې د جنایی تعقیب او حبس بدیل وړاندیز کوي، عموماً د درملنې یا پاملرنې له لارې) په اړه ستاسې سپارښتنې ملاحظه کړي.
- د مدعي علیه د وکیل یا شخصي څارنوال سره غږیدل رد کړئ.
- د پیلې وضعې (په قضیه کې د محکمې نهایی پریکړه) پروګرامونو په اړه خبرتیاوې ترلاسه کړئ کوم چې ممکن ستاسې قضیې پورې اړوند وي.

Victims' Rights Guide
Updated 2024 Pashto

### د محکمې پروسه کې ستاسې حقونه

که ستاسې قضیه محکمې ته لاړه شي، تاسې د لاندې مواردو د کولو حق لرئ:

- محکمه ستاسې مهالویش په پام کې ونیسي کله چې د محکمې او اړینو اوریدو لپاره نیټې ټاکي.
- د محکمې دمخه آزادیدو اوریدا کې تاسې واوریدل شئ.
- د سزا دمخه پلټنې راپور کې ستاسې بیان شامل شي که امر یې وشي.
- د خپلې قضیې د پایلې نه خبر شئ.

### د وضع (محکومیت) نه وروسته ستاسې حقونه

که چیرې اوریداوې ستاسې د قضیې د برخې په توګه د لاندې کومو موضوعاتو په اړه وشي، تاسې حق لرئ پدغه اوریداو کې وغږیږئ:

- د قضیې یو اړخ ته کول یا ردول.
- د متخلف د جنایی مخینې یا ریکارډ څخه د تور لیرې کول.
- د دې مشخص کول چې آیا متخلف باید د جنسي تیري یا تخلف کونکي په حیث راجستر شي.
- د رواني مصؤنیت بیاکتنې بورډ (PSRB) اوریداوې.

ستاسې د قضیې پایله مشخص کوي چې څوک به د متخلف نظارت کوي او تاسې به د اوریداو په اړه خبر کړي. د دې خبرتیاو غوښتلو لپاره، خپل د اړیکې معلومات لاندې نهادونو ته ورکړئ:

| د قضیې پایله | چیرې خپل د اړیکې معلومات ورکړئ |
| --- | --- |
| په حبس محکوم شوی | د مشروط آزادۍ او حبس نه وروسته نظارت بورډ: 503-945-0907 |
| په تعلیقي حبس محکوم شوی | ستاسې د ټولنې د سمونونو یا د تعلیقي حبس څانګه |
| د PSRB واک لاندې راوستل شوی | PSRB: 503-229-5596 |

### د جرم قرباني او د پاتې شوي خدمتونو څانګه

### د اوریګون عدلیه وزارت

Crime Victim and Survivor
Services Division
Oregon Department of Justice
1162 Court St. NE
Salem, OR 97301

503–378–5348

یا

1–800–503–7983

doj.state.or.us/victims

cvssd@doj.oregon.gov

### د لاسرسي وړ مواد

د دې بروشور د لاډیر لاسرسي وړ نسخې لپاره، یا د دې معلوماتو او د CVSSD پروګرامونو ته د لاسرسي نورو لارو په اړه معلوماتو لپاره، زموږ سره اړیکه ونیسئ.

بریښنالیک: cvssd@doj.oregon.gov

تلیفون: 503-378-5348 یا

1-800-503-7983

# د قربانیانو د حقونو لارښود

### د جرم قرباني او د پاتې شوي خدمتونو څانګه د اوریګون عدلیه وزارت

Crime Victim and Survivor
Services Division
Oregon Department of Justice
1162 Court St. NE
Salem, OR 97301
503–378–5348
1–800–503–7983
doj.state.or.us/victims
cvssd@doj.oregon.gov

**هر قرباني، هر جرم،**
**هر حق، هر وخت.**

## زه نور د کومو حقونو غوښتنه کولی شم؟

د هغه قضیې لپاره چې تاسې یکې قرباني یې یا د قرباني قانوني سرپرست، تاسې کولی شئ غوښتنه وکړئ:

- د هغه انځورونو یا ثبت شریکدل محدود شي چې له جنسي پلوه ځرګند وي.
- د ځیني ښکاره او پرانیستي محکمې پروسو څخه خبر کړی شئ.
- د متخلف د جنایي تاریخچې په اړه ځینې معلومات لاسته راوړئ.
- د متخلف د HIV یا د نورو ناروغیو ټیسټ وشي که چیرې ناروغي تیره شوي وي.

## د نیول کیدو نه وروسته حقونه

که چیرې کوم څوک د جرم لپاره نیول شوی وي، تاسې کولی شئ غوښتنه وکړئ:

- د ځیني ښکاره او پرانیستي محکمې پروسو څخه خبر کړی شئ.
- د راتلونکي آزادیدو اوریدا په اړه خبر کړی شئ.
- د تاوتریخوالي جنایت قضیه کې د غوښتنې په اړه وپوښتل شئ.

## د محکمې پروسو کې حقونه

که ستاسې قضیه محکمې ته لاړه شي، تاسې کولی شئ غوښتنه وکړئ:

- د محکومیت اوریدا کې وغږیږئ یا لیکلی بیان وسپارئ.
- د محکمې د پروسې د عکاسی او انځوریز او ویډیوي ثبت مخنیوی وکړئ که چیرې قضیه د جنسي تخلف په تړاو وي.

## د وضع نه وروسته حقونه

د جنسي تخلف قضیو کې، تاسې حق لرئ د متخلف لخوا درسره اړیکه ونه نیول شي. د ټولو جنایي قضیو لپاره، د متخلف د سزا په پام کې نیولو سره، تاسې د ځیني حقونو غوښتنه کولی شئ.

| د قضیې پایله | تاسې د څه شي غوښتنه کولی شئ |
|---|---|
| په حبس محکوم شوی | • خبرتیا کله چې متخلف د زندان څخه آزاد شي<br>• د مشروط آزادۍ اوریدا 30 – ورځني خبرتیا |
| په تعلیقي حبس محکوم شوی | • د تعلیقي حبس لغو کولو هرډول اوریدا په اړه خبرتیا |
| د PSRB واک لاندې راوړل شوی | • د متخلف د قضیې په اړه ځینې معلومات<br>• د اوریداو خبرتیا |

## د ځیني قربانیانو لپاره حقونه

که تاسې د **ناوړه چلند، جنسي برید، کورني تاوترخوالي، یا تعقیب کیدو قرباني یې**، تاسې حق لرئ چې:

- محکمې یا طبي ملاقاتونو لپاره له کار څخه رخصت وکړئ.
- کرایي تړون د وخت نه مخکې ختم کړئ.
- د وګړی مرستو څخه نه بې برخې کیږئ.
- خپل کولپونه بدل کړئ.
- د عامه استوګنې لپاره ځانګړي ترتیبات ترلاسه کړئ.
- د خپل تلیفون شرکت سره د تادیه پلان وټاکئ.

که تاسې **د کورني یا جنسي ناوړه چلند، تعقیب، یا د معیوب یا ډیر غمر لرونکي فرد پروړاندي ناوړه چلند قرباني یې**، تاسې د محافظتي امر (داسې امر چې فرد ستاسې سره د ناوړه چلند یا ستاسې د ځورولو څخه منع کوي) غوښتنه کولی شئ.

که تاسې **د جنسي برید قرباني یې**، تاسې د روغتون څخه د بیړني حمل مخنیوي درملو ترلاسه کولو حق لرئ.

که تاسې **د کورني تاوتریخوالي قرباني یې**، تاسې ممکن د کورني تاوتریخوالي پاتې شویو لپاره د اوریګون لندمهاله مرستې فنډ له لارې د مالي مرستې ترلاسه کولو ور اوسئ.

که تاسې **کډوال یې**، تاسې ممکن اضافي قانوني انتخابونه لرئ. ستاسې د مهاجرت دریځ د جرم د قرباني په توګه ستاسې حقونو باندې اغیزه نلري.

که تاسې **د داسې جرم قرباني یې چې د فزیکي ټپ یا مریني لامل شوی وي**، تاسې ممکن د مشورې، طبي پاملرنې او د جنازې مراسمو اړوند لګښتونو لپاره د مالي مرستې ترلاسه کولو ور اوسئ. د نورو معلوماتو لپاره د جرم قربانیانو د تاوان پروګرام سره اړیکه ونیسئ.

## زه څنګه د حقونو غوښتنه وکړم؟

د حقونو غوښتنې یا د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د خپلې ځایي ولسوالۍ د څارنوالۍ دفتر یا د قربانیانو د مرستې پروګرام سره اړیکه ونیسئ.

## څه که زما د قضیې د استیناف غوښتنه وشي؟

که ستاسې د قضیې د استیناف غوښتنه وشي (که چیرې له محکمې د پریکړې د بدلولو غوښتنه وشي)، تاسې ممکن اضافي حقونه لرئ. د نورو معلوماتو لپاره د اوریګون عدلیه وزارت د استیناف وکالت پروګرام سره اړیکه ونیسئ.

> **زه څنګه داړ ترلاسه کولی شم چې زما حقونه خوندي دي؟**
>
> داړ لاسته راوړئ چې د ولسوالۍ د څارنوالۍ دفتر یا د تنکي ځوانانو څانګه ستاسې د اوسنۍ اړیکې معلومات لري.
>
> که تاسې فکر کوئ چې ستاسې قانوني حقونه نه په ځای کیږي، تاسې کولی شئ په ټاکلي مهال کې د سرغړوني ادعا شکایت وکړئ. د نورو معلوماتو لپاره doj.state.or.us/victims-rights-enforcement ته ورشئ

## آیا زه د دې بروشور د نورو کاپیانو غوښتنه کولی شم؟

هو. مهرباني وکړئ د لاندې ورکړل شوي اړیکې معلوماتو په کارولو سره زنګ ووهئ. دا بروشور په لاندې ژبو کې هم شتون لري:

- کوریایی
- روسي
- ساده چینایی
- هسپانوي
- ویتنامي

## زموږ سره اړیکه ونیسئ

**د جرم قرباني او د پاتې شوي خدمتونو څانګه د اوریګون عدلیه وزارت**

Crime Victim and Survivor Services Division
Oregon Department of Justice
1162 Court St. NE
Salem, OR 97301

تلیفون: 503-378-5348 یا 1-800-503-7983

فکس: 503-378-5738

doj.state.or.us/victims

cvssd@doj.oregon.gov

> **د دې حقونو عملي کول د جرم قرباني د مدني دعوی عریضې کولو څخه نه منع کوي**

## د قرباني خدمتونو د اړیکې معلومات

د استیناف وکالت پروګرام
503–378–4284

د خوندیتوب لپاره تلیفون: د آیالت په سطحه ځایی ناورین پروګرامونو ته رجعت
1–888–235–5333

د کاتولیک خیریه چارو د مهاجرت قانوني خدمتونه
503–542–2855

د جرم قربانیانو د تاوان پروګرام
1–800–503–7983

د معیوبیت حقونه اوریګون، د جرم پاتې شوي پروژه
502–243–2081 x243

د مهاجرت مشورې خدمت
503–221–1689

د اوریګون د مشروط آزادۍ او د حبس نه وروسته نظارت بورډ
503–945–0907

د اوریګون د جرم قربانیانو د قانون مرکز
503–208–8160

د اوریګون آیالت بار
1–800–452–8260
osbar.org/public

د اوریګون آیالت د پولیسو د جنسي متخلف راجستر
503–934–1258

د اوریګون د ځوانانو اداره
503–373–7205

د رواني مصؤنیت د بیاکتنې بورډ (PSRB)
503–229–5596

د آیالت په سطحه د قانوني مرستې معلومات
oregonlawhelp.org

په اوریګون کې د قرباني معلوماتی سیستم (VISOR)
888–749–8080
visor.oregon.gov